## ولې د یو غره نه لویې ډبرې ښوئیږي او یا د غره یوه برخه نړیږي؟

ډېرو قدرمنو او درنو هیوادوالو !

دا چې زمونږ هیواد افغانستان یو غرنی هیواد دی او ډېر استوګنځایونه، لارې او سړکونه د غرونو په لمنو یا په درو کې واقع دي، نو لازمه ده چې مونږ د هغه طبعیي ناورینونو څخه، کوم چې د غرونو څخه منځ ته راځي، ځان خبر کړو. هر کال زمونږ ډېر هیوادوال د غرونو د ډبرو ښوئیدو په وجه شهیدان کیږي ، نو ځکه ما لازمه وګڼله چې د دا ډول ناورین په برخه کې یو لنډ معلومات د خپلو هیوادوالو سره شریک کړم.

## ولې د یو غره نه لویې ډبرې ښوئیږي او یا د غره یوه برخه نړیږي؟

اکثره غرونه د ډېرو لویو او وړو ډبرینو طبقو څخه پولي جوړې کړي. دغه ډبریني طبقې د طبعي ډېرو سختو پېښو په وجه، لکه (زلزلې، ورښتونه او د تودوخي ښکته او پورته کېدنې ) یو د بل څخه فاصله پېدا کوي او درزونه جوړوي.



د احصایې د مخې په غره کې د لویو ډبرو ښوئیدنه یا د غره یوې برخې ماتېدنه په پسرلي کې منځ ته راځي. په دغه وخت کې د موسم په بدلېدو سره کنګل (یخ) په ویلې کېدو راځي او دغه لویې ډبرې کمزوري کیږي. د جامدو موادو فزیکې خاصیت دې چې د تودوخي په لوړېدو او ټیټېدو سره دا هم پراخېدنه او غونجېدنه لري (انبساط او انقباض کوي). په سوړ موسم کې دغه لویې ډبرې غونجیږي (انقباض کوي) او په تود موسم کې براخیږي یا اوږدیږي ( انبساط کوي). کله چې سوړ موسم په خلاصېدو شي او کنګل په ویلې کېدو شي، نو بیا د ډبرو د دغو طبقو تر منځ ټینګوالی کمزوری کیږي. دا چې په تودې هوا کې دا لویې ډبرې بیا خپل حالت ته

تغیر ورکوي او انبساط کوي، نو نه شي کولای چې بېرته خپل ځای ته راشي او د بلې ډبرې سره خپل حالت ټینګ کړي. دا ځکه چې په دغه دواړو ډبرو تر منځ درز یا چاود کې نور وړې کاڼي او ډبرې ځای په ځای شوي وي، دا پروسه کال په کال تکراریږي او د لویو ډبرو ترمنځ فاصله زیاتیږي ، نو بل اخره د سختو ورښتونو په وجه د ډبرې لاندې برخه خړوبی کیږي او ډبره په ښوئیدو راځي. اوبه دغو څو لویو ډبرو تر منځ په درزونو کې ځای نیسي او هلته کنګل کیږي او پر ډبرو فشار راوړي.بیا نو کله چې موسم تغیر وخوري، په دغه دزونو کې د سختو ورښتونو په وجه اوبه لارې کوي او تر هغه ځایه، چېرته چې د دغه طبقو پوله ده، د ډبرو ټینګوالی کمزوری کوي چې بل اخره د ډبرو د ښوئیدو باعث ګرځي.

## څنګه ښوئیدنه منځ ته راځي؟

د یوې کتلې خوځېدنه (حرکت) ، د ځوړندې برخې حرکت یا ښوئیدنه د ګیومورفولوګي Geomorphologie پروسه ده (Geomorphologie دا یو یوناني لغت دی چې د ځمکې پورتنې سطحې شکل، د هغې جوړېدنه او تغیر خوړنه ده) . دا چې ځمکه د جاذبې قوه لري، نو هغه لویې ډبرې چې په غرونو کې د ځوړند حالت سره پولې جوړې کړي، د سختو زلزلو په وجه تیکتونکي درزونو لیکې جوړیږي چې دلته بیا د ډبرو لویې کتلې، کوم چې په ځوړند حالت کې دي، هغه د سختو ورښتونو اوبو سره خپل ټینګوالی له لاسه ورکوي او بیا په حرکت راځي او ښوئیږي.



د دا ډول ناورین مخنیوی د پاره د هیواد قدرمن چارواکي باید یو ګروپ د حفظ او مراقبت د پاره وټاکي، تر څو هر کال د غرونو هغه برخې چې سړکونو، لارو او استوګنځایونو سره واقع

دي، کنترول او د امکان په صورت کې د زیانمنې شوي برخې څخه هیوادوال خبر او خپل لازمي اقدامات تر سره کړي.

دیپلوم انجینیر اسدالله ملکزی